مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۱۱** (از ۸ الی ۱۵ حمل ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

### د ایران-امریکا خبرې اترې او پر سیمه یې اغېزې

- د ایران اتومي پروګرام ته کتنه ........ ۳
- د اتومي توافق د بریا چانسونه ........ ۵
- پر سیمه د ایران-امریکا د توافق اغېزې ........ ٦

### کنفرانس لوزان و آیندۀ برنامۀ اتومی ایران

- پیشینۀ تحریم‌ها و مخالفت‌های غرب ........ ۸
- اختلافات داخلی بر سر توافق با گروه 5+1: ........ ۱۰
- خواست‌های ایران از نشست لوزان ........ ۱۰
- نتیجه ........ ۱۱

## مقدمه

د نړۍ شپږ قدرتونه (۱+۵) له ایران سره د دغه هېواد د اتومي پروګرام په اړه له اوږدو خبرو اترو وروسته، د پنجشنبې په شپه (د اپرېل په ۲مه) پر یوه لس کلن توافق هوکړې ته ورسېدل. پر ایران د تېرو کلونو بندیزونو ایران د یورانیمو له غني کولو راونه ګرځاوه، خو لړترلږه یې د خبرو اترو مېز ته کېناوه.

د ایران او ۱+۵ ډلې هېوادونو ترمنځ له دغه توافق سره به، له څه باندې دریو لسیزو راهیسې د ایران-امریکا ترمنځ پرې شوې اړیکې بېرته عادي حالت ته وګرځي. دا توافق به د سیمې د هېوادونو غبرګونونه او همدا راز په امریکا کې دننه هم مخالف او موافق دریځونه له ځان سره ولري.

ایران به د دغه توافق له مخې نړیوالو څارونکو ته اجازه ورکړي، چې د سانتریفیوژونو د جوړولو تاسیساتو ته هم لاسرسی ولري او په مقابل کې به ایران د یورانیمو غني کولو ته دوام ورکوي او ترڅنګ به یې د اروپایي ټولنې څو اړخیز او د امریکا یو اړخیز ټول اقتصادي او مالي بندیزونه لرې کېږي او ۱+۵ هېوادونه پر ایران نوي بندیزونه نه لګوي.

د ایران-امریکا ترمنځ د خبرو اترو شالید، د دغه توافق د بریالیتوب چانسونه او پر وړاندې یې شته خنډونه څه دي؟ او همدا راز دغه معامله به پر سیمه څه اغېزې وښندي؟

د دې اوونۍ په تحلیل کې، په همدې موضوع د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د څېړنیزې څانګې شننې لولئ:

# د ایران-امریکا خبرې اترې او پر سیمه یې اغېزې



په تېرو څو لسیزو کې د نړیوال سیاست یوه مهمه موضوع د ایران اتومي پروګرام و، چې د نړۍ مطبوعات یې ګرم ساتلي وو. د ایران د اتومي پروګرام پر سر د امریکا او ایران ترمنځ له تېرې یوې لسیزې راهیسې خبرې اترې روانې وې؛ خو دغه خبرې اترې په تېره بیا د حسن روحاني له ولسمشر کېدو سره ګړندۍ شوې او اوس له ۱۸ میاشتو خبرو اترو وروسته د ایران-امریکا ترمنځ په دې اړه لومړنی توافق وشو.

د نړۍ له شپږو قدرتونو سره د ایران د اتومي پروګرام په اړه توافق به، په سیمه کې د ځواک پر انډول او په ټوله کې پر نړیوال سیاست هم اغېزې وښندي.

## د ایران اتومي پروګرام ته کتنه:

د ایران اتومي پروګرام په ۱۹۵۷ کال کې هغه مهال پیل شو، چې کله امریکا «د سولې لپاره اتوم» تر نامه لاندې یوه تړون له کبله له ایران سره همکاري پیل کړه. وروسته بیا دغې همکارۍ د امریکا له خوا د (پنځه مېګاواټه

تهران ريسرچ ريکټر) په ورکولو سره بدلون وموند[1]. هغه مهال ايران او امريکا ډېرې نېږدې اړيکې پاللې او تهران په سيمه کې د امريکا د ګټو ساتندوی بلل کېده.

رضا شاه پهلوي په ۱۹۷۴ کال کې د ايران د اتومي انرژۍ سازمان جوړ کړ او هيله يې څرګنده کړه چې په شلو کلونو کې به د ۲۳ اتومي بټيو په وسيله ۲۳ زره مېګاواټه برېښنا توليد کړي[2]؛ خو په ۱۹۷۹ کال کې په ايران کې د اسلامي انقلاب له راتګ سره د امريکا او ايران ترمنځ اړيکې د څو لاملونو له کبله خرابې شوې:

**لومړی:** د اسلامي انقلاب ترسره کوونکو له خوا پر غرب او امريکا نيوکې؛

**دويم:** د امريکايي ديپلوماتانو نيول؛

**دريم:** پر ايران بنديزونه لګول.

د اړيکو له خرابېدلو سره د امريکا له خوا له ايران سره د اتومي پروګرام، چې تر ډېره سوله ييز و، همکاري تم کړه. د دې ترڅنګ ايران له عراق سره په يوه اوږده جګړه کې ښکېل شو؛ خو د يو شمېر پوهانو په اند د همدغې اوږدې جګړې پرمهال، ايران وانګېرله چې بايد د اتوم جوړولو په لټه کې شي، ترڅو د خپل هېواد امنيت تضمين کړای شي.

د نړيوال اتومي انرژۍ سازمان په اند، په ۱۹۸۷کال کې ايران له عبدالقديرخان څخه ځينې تخنيکي مرستې ترلاسه کړې[3]. په نوييمه لسيزه کې د امريکا له خوا پر ايران يو شمېر اقتصادي بنديزونه ولګېدل او له ۲۰۰۲ کال څخه تر ۲۰۱۴ کال پورې دا بنديزونه نور هم زيات شول. په دغه پړاو کې ايران له ۵+۱ هېوادونو[4] او د اتومي انرژۍ له نړېوالې ادارې سره خبرې اترې وکړې، چې دا خبرې به هم کله ودرېدې او کله به هم بيا پيل شوې؛ خو دواړه لوري کومې موافقې ته پکې ونه رسېدل.

---

[1] Iram Khalid & Rehana Saeed Hashmi, Iranian Nuclear Deal: Future Perspectives and Implications for the Region, Pakistan Vision, Vol. 15, No.1

[2] Arms Control, Timeline of Nuclear Diplomacy with Iran.

[3] Albright, D. (2007). Iran's Nuclear Program: Status and Uncertainties, Washington DC: Congress Committee on Foreign Affairs.

[4] د ملګرو ملتونو د امنيت شورا پنځه دايمي غړي او جرمني.

کله چې په ایران کې حسن روحاني انتخابات وګټل نو د اتومي پروګرام په اړه بیا خبرې اترې پیل شوې او د امریکا ولسمشر اوباما هم له روحاني سره ټیلیفوني خبرې وکړې او دا په تېرو څو لسیزو کې لومړی ځل و، چې د دواړو هېوادونو د جګپوړو چارواکیو ترمنځ مخامخ اړیکه ونیول شوه.

په پیل کې د روحاني له راتګ سره د امریکا او ایران ترمنځ پر یوه شپږ-میاشتني لنډمهالي تړون موافقه وشوه، چې له مخې به یې ایران تر شپږو میاشتو پورې یورانیم نه غني کوي او امریکا به پر ایران د اتومي پروګرام تر چتر لاندې نور بندیزونه نه لګوي[5]. خو اوس بیا د سویس په لوزان ښار کې د ایران او ۱+۵ هېوادونو ترمنځ پر یوه اوږدمهالي تړون ابتدايي توافق وشو.

## د اتومي توافق د بریا چانسونه:

د امریکا په تاریخ کې هر ولسمشر په خپلو دورو کې هڅه کړې، چې یو بنسټیز او تاریخي کار وکړي. په همدې موخه به اوباما هم وغواړي، چې له ایران سره په دې معامله کې بریالی شي او ایران د اتوم له جوړولو څخه راوګرځوي.

د دې ترڅنګ ایران د احمدي نژاد د توند سیاست او ځرګندونو له کبله له ډېرو اقتصادي بندیزونو سره مخ شو او د ایران اقتصاد یې وځپاه. له همدې کبله حسن روحاني هم اړ دی، چې د اقتصادي بندیزونو د لرې کولو په موخه دا توافق بریالیتوب ته ورسوي.

بل لامل، چې د خبرو اترو په بریالیتوب کې یې هم رغند رول ولوباوه، د ایران د دوو معتبرو اخوندانو فتواوې دي، چې دوی د اتوم پرخلاف ورکړې وې. یوه فتوا په ۱۹۹۶ کال کې آیت الله خمیني او بله خاتمي ورکړې وه. ایران هم په ځینې مجالسو کې نړیوالو ته همدغه فتواوې د ثبوت په توګه وړاندې کوي، چې دوی اتومي وسلې جوړول نه غواړي، بلکې یوازې سوله ییز استعمال یې غواړي.

[5] Aljazeera, Shifting focus: Impact of Iran nuclear deal, 24 Nov, 2013, retrieved at 1 April 2015, see it online: < http://www.aljazeera.com/news/middleeast/2013/11/shifting-focus-impact-iran-nuclear-deal-2013112481732726811.html>

## پر سیمه د ایران-امریکا د توافق اغېزې:

د ایران د اتومي پروګرام په اړه د ایران-امریکا معامله به، د سعودي عربستان او اسرائیلو غبرګون له ځان سره ولري؛ ځکه په سیمه کې ایران د دواړو هېوادونو رقیب دی. اسرائیل، ایران پر دې تورنوي چې له حماس سره مرستې کوي، د دې ترڅنګ ستراتېژيک او سیمه‌ییز رقابت هم ورسره لري او سعودي بیا له ایران سره ایډیالوژيک او ستراتیژيک رقابت لري. دوی به د تېر لنډمهالي تړون په شان اوس هم غبرګون وښيي، خو بیا به هم له امریکا سره د تړون په جوړولو کې شریک وي.

دا مهال د دغو دواړو هېوادونو او امریکا په ګټه ده، چې ایران د اتومي وسلو له جوړولو راوګرځول شي. ځکه دا خبره یقیني ده، چې امریکا په یوه داسې تړون له ایران سره هوکړه نه کوي، چې ایران د اتومي وسلو له جوړولو څخه پکې راونه ګرځول شي. دغه تړون به د اوس لپاره د ایران دغه هیله، چې اتومي وسلې ترلاسه کړي، تر یوه بریده وځنډوي.

د اقتصادي بندیزونو له لرې کېدلو سره به ایران د یو ځل بیا لپاره نه یوازې دا چې په سیمه‌ییز سیاست، بلکې په نړیوال سیاست هم خپلې درنې اغېزې پرې باسي. د اقتصادي بندیزونو د لرې کېدلو له کبله به د ایران نړیوال تجارت زیات شي، د دې ترڅنګ به په ایران کې پانګونې هم پیل شي او د خپلو تېلو د صادراتو له کبله به هم ډېرې ګټې ترلاسه کړي.

له ایران څخه د اقتصادي بندیزونو له لرې کېدلو سره به د ایران اقتصادي حالت په ځانګړې ډول سعودي او اسرائیلو ته د منلو وړ نه وي، ځکه له دې سره به ایران د منځني ختیځ په هېوادونو کې خپل نفوذ لازیات کړي.

پاکستان به دغه حالت ته په ښه سترګه وګوري، ځکه له یوې خوا به یې له ایران سره تجارت زیات شي او له بلې خوا به له ایران سره په هغو اقتصادي پروژو کې (لکه ایران-پاکستان-هند د غازو نللیکه) هم له سره کار پیل کړي؛ ځکه ویل کېږي چې پاکستان او هند له دغې پروژې څخه د امریکا د فشار له کبله وتلي وو.

د افغانستان لپاره به هم له یوې خوا دغه حالت ښه وي؛ ځکه له ایران سره به په یو شمېر اقتصادي پروژو کې، لکه (د چین-افغانستان-ایران د غازو نللیکه کې نښلول) په ډېره آسانۍ کار وکړای شي، خو له بلې خوا به له ایران‌سره د غاز/تېل نللیکو په تېرولو کې هم په رقابت کې ښکېل شي؛ ځکه هر هېواد به غواړي چې دغه نللیکې د دوی له هېواد څخه تېرې شي. مګر که چېرې ایران د اتومي وسلې له جوړولو څخه ونه ژغورل شي، نو

دا به په راتلونکي کې د افغانستان امنیت ته هم یو ګواښ وي او افغانستان به د اتومي هېوادونو په محاصره کې وي. اوسمهال د افغانستان دوه ګاونډیان (چین او پاکستان) او دوه لرې ګاونډیان (روسیه او هند) د اتوم خاوندان دي او دا به یو بل هېواد شي، چې افغانستان به ورسره پوله ولري.

# کنفرانس لوزان و آیندۀ برنامۀ اتومی ایران



چهارمین دور مذاکرات 5+1 به هدف یافتن راهی برای حل بحران برنامۀ اتومی ایران، در لوزان سویس روز پنجشنبه 2 فبروری هم ادامه یافت. طبق ضرب الاجل از قبل تعیین شده، قرار بود این مذاکرات تا 31 مارچ به نتیجه برسد، اما این محدودیت زمانی بعد از آن چند ساعت تمدید شد که طرفین به راه حل نزدیک شدند و توافق نهایی نیاز به مذاکرات بیشتر داشت.

## پیشینۀ تحریم‌ها و مخالفت‌های غرب:

اگر به گذشته بنگریم، ایران در زمان "شاه" برنامۀ اتومی با مقاصد ظاهرا صلح‌آمیز را روی دست گرفت و تهداب نیروگاه اتومی در بوشهر در همان زمان نهاده شد. در آن زمان ایران به دلیل نزدیکی به غرب، به خاطر این اقدام مورد فشار کشورهای غربی و اسرائیل قرار نگرفت.

در آن زمان عراق همسایهٔ ایران نیز که با این کشور اختلاف مرزی داشت و در عکس العمل به این اقدام شاه، صدام حسین رئیس جمهور عراق نیز طرح ساختن نیروگاه اتومی را آغاز کرد و به این ترتیب مسابقهٔ دسترسی به تکنالوژی اتومی ظاهرا به هدف غیرنظامی، میان دو کشور آغاز گردید.

بعد از پیروزی انقلاب اسلامی ایران، این کشور درگیر جنگ با عراق شد که در نتیجهٔ این جنگ، نیروگاه اتومی بوشهر که هنوز کار زیادی در آن صورت نگرفته بود، مورد حملات طیارات عراقی قرار گرفت و به شدت صدمه دید. از جانب دیگر اسرائیل که عراق را دشمن خطرناک‌تر و نزدیک‌تر به خود می‌دانست، با حمله به تاسیسات اتومی عراق، این تاسیسات را با خاک یکسان ساخت.

بعد از این جنگ، ایران برنامهٔ اتومی را به صورت مخفیانه از سر گرفت. در سال 1981 غرب به برنامهٔ مخفیانهٔ اتومی ایران پی برد و از آن به بعد فشارهای امریکا برای وادار کردن ایران به کنار نهادن برنامهٔ اتومی‌اش آغاز شد. تاثیر گذارترین این تحریم‌ها تحریمات بانکی بود که دادوستد ایران با دنیای خارج را شدیدا به مشکل مواجه ساخت و صادرات نفت ایران را محدود نمود.

مشکل ایران این بود که بعد از انقلاب، با امریکا در مخالفت درآمد و به خصوص موضوع گروگانگیری دیپلومات‌های امریکایی در تهران خاطره‌ای را در ذهن امریکایی‌ها ایجاد کرد که تا به امروز نیز از میان نرفته است. لابی قدرتمند صهیونیست‌ها در امریکا نیز موانع بزرگ سر راه این برنامه ایجاد کرد و ایران با تعزیرات اقتصادی از طرف جامعهٔ جهانی مواجه شد. در نتیجهٔ این تعزیرات، بهای این برنامه برای ایران نیز به صدها ملیارد دالر بالغ شد. هرچند ایران می‌خواست به جهانیان اطمینان بدهد که برنامهٔ اتومی‌اش صلح‌آمیز است، اما مخالفین ایران این ادعا را نپذیرفتند.

ایرانی‌ها خواستند تا در فرصت‌های به دست‌آمده برای بهتر ساختن روابط با امریکا سود ببرند، به این امید که امریکا در مورد برنامهٔ اتومی این کشور نرمش نشان دهد. حملهٔ امریکا به افغانستان در سال 2001 این فرصت را فراهم نمود و ایران با در اختیار گذاشتن فضای خویش به امریکا، به سقوط رژیم طالبان کمک کرد اما در مقابل جورج بوش رئیس جمهور وقت امریکا به جای تشکر از این اقدام ایران، این کشور را محور شرارت و همکار با تروریسم خواند.

تنها اسرائیل نبود که برنامهٔ اتومی ایران را چالشی برای خود می‌دانست. کشورهای عرب حاشیهٔ خلیج فارس و عربستان سعودی نیز با این برنامه مخالف بودند. آنها به این باور بودند که اگر ایران به سلاح اتومی دست یابد،

دیگر نمی‌توان این کشور را کنترول کرد. داشتن سلاح اتومی یک کشور را به محدودهٔ غیرقابل تجاوز مبدل می‌سازد و دیگر نمی‌توان به هیچ صورت به این کشور حمله کرد.

## اختلافات داخلی بر سر توافق با گروه 5+1:

مدیریت برنامهٔ اتومی ایران به خاطر حساسیت آن به دوش رهبر این کشور آیت الله خامنه‌ای است. در رابطه با مذاکرات با غرب، در میان دولتمردان ایران دو نوع طرز فکر وجود دارد؛ گروه محافظه‌کار که معتقد اند توافق نکردن بهتر از یک توافق بد است، اما در مقابل اصلاح طلبان می‌گویند که توافق بد بهتر از توافق نکردن خواهد بود. آیت الله خامنه‌ای رهبر جمهوری اسلامی ایران هرچند تمایل روشن به جناح محافظه‌کار دارد اما در این مورد، این گروه را به سکوت فرا خوانده تا دیده شود که نتیجهٔ این مذاکرات چه خواهد شد.

مخالفین ایرانی رژیم جمهوری اسلامی ایران دولتمردان این کشور را متهم می‌سازند که همیشه بدترین تصمیم‌ها را در بدترین مواقع می‌گیرند. مثلا در زمان جنگ ایران و عراق، زمانیکه ایران دست بالاتر را داشت، حاضر نشد تا با صدام حسین صلح نماید و جنگ را ادامه داد، اما زمانی به آتش بس راضی شد که برایش حکم نوشیدن جام زهر را داشت.

حالا نیز ایران این توافق را در شرایطی پذیرفت که مشکلات اقتصادی در داخل از یک طرف و تهدیدات امنیتی در خارج از جانب دیگر، ایران را در مضیقهٔ شدید قرار داده است. دخالت نظامی ایران در سوریه، عراق و یمن مشکلات اقتصادی را تشدید نموده و در داخل، مردم خواهان بهبود وضع اقتصادی اند.

## خواست‌های ایران از نشست لوزان:

ایران از نشست لوزان دو خواست عمده دارد:

1- حفظ دست آوردهای علمی در عرصهٔ فناوری هستوی.
2- رفع تحریم‌های اقتصادی از طرف جامعهٔ جهانی به صورت فوری و به دنبال قبول توافقنامه.

اما آیا تحقق این خواست‌ها ممکن است؟ در بخش تداوم فناوری هستوی، گروه 5+1 توافق کرده اند که ایران می‌تواند 6 هزار سانترفیوژ خود را فعال نگهدارد، اما متخصصین به این باور اند که سانترفیوژهای ایران که ساخت

روسیه است متعلق به چند دهه قبل بوده و توان غنی سازی به مراتب پائین‌تر از سانترفیوژهای نسل جدید را که در کشورهای پیشرفته به کار گرفته می‌شود، داراست. حتی بعضی‌ها به این باور اند که اگر ایران محدودیت 6 هزار سانترفیوژ را بپذیرد، به مشکلات فنی مواجه خواهد شد زیرا اگر شش هزار سانترفیوژ فعلی مدت ده سال کار کند، فقط می‌تواند مواد سوخت یک سال نیروگاه بوشهر را تهیه نماید. این در حالیست که ایران می‌توانست با مصارف بسیار کمتر، سوخت غنی شده برای این نیروگاه را از خارج بخرد.

در مورد دوم یعنی رفع تحریم‌ها نیز این نکته مشخص است که تحریم‌ها فردای روز قبولی توافق از جانب ایران، از میان نخواهد رفت. توافق نهایی در 30 جون به امضا خواهد رسید و بعد از آن موضوع رفع تحریم‌ها از جانب امریکا به کنگره خواهد رفت و اتحادیهٔ اروپا نیز در این مورد تشکیل جلسه خواهد داد. این پروسهٔ بوروکراتیک می‌تواند تا پایان سال 2015 ادامه یابد. بخشی از این تحریم‌ها مربوط به شورای امنیت است که باید در این مجمع روی آن توافق صورت بگیرد و این کار نیز نیاز به زمان خواهد داشت. به خصوص رفع تحریم‌های بانکی که برای ایران بسیار حیاتی است.

بنابراین می‌توان گفت که آنچه را که ایران خواهان به دست آوردن آن به دنبال قبول توافق با گروه 5+1 است، به سهولت به دست نخواهد آورد و باید ماه‌ها انتظار بکشد.

## نتیجه:

کشورهای عربی و اسرائیل نگران این توافق اند و به این باور اند که توافق هستوی با ایران می‌تواند به این کشور فرصت‌های بیشتری برای مداخله در کشورهای دیگر فراهم آورد. همین اکنون کشورهای اتحادیهٔ عرب یک اتحاد نظامی برای مقابله با مداخلات ایران در جهان عرب به میان آورده‌اند و ناتانیاهو صدراعظم اسرائیل شدیدا از یک توافق بد با ایران هشدار داد. کشورهای عربی نگران اند که لغو تحریم‌ها موجب بلندرفتن بنیهٔ اقتصادی ایران گردد و در نتیجه جنگ نیابتی این کشور در جهان عرب وسعت بیشتر یابد، اما ایران می‌گوید که هیچ توافقی که در آن تحریم‌ها لغو نگردد، قابل قبول نخواهد بود.

امریکا به این باور است که باید قبل از رفع تحریم‌ها این اطمینان به دست آید که ایران به تعهدات خویش که در لوزان داده است عمل خواهد کرد زیرا اگر تحریم‌ها لغو گردد و سپس ایران به آن عمل نکند، سال‌ها وقت لازم خواهد بود تا بار دیگر این تحریم‌ها از سر گرفته شود.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (93+)